# د مور او پلار تر وفات وروسته د هغوی حقوق

ژباړن: موسی مهاجر

لکه ځنګه، چي مور او پلار په خپل ژوند کي په اولاد حقوق لري، همداسي تر وفات وروسته هم دهغوی ځيني حقوق اولاد ته متوجه کيږي او داسلام مبارک دين يې لارښوونه کړې ده.

په يوه حديث کي نبی عليه السلام وايي:

عن ابی أسید نالساعدی قال بینما نحن عندرسول اللهﷺ اذ جاءه رجل من بنی سلمة فقال: یارسول الله! هل بقی من بر أبویّ شئی؟ أبرهمابه بعدموتهما.

قال نعم، الصلوة علیهما والاستغفار لهما وانفاذعهدهما من بعدهما، وصلة الرحم التی لاتوصل الابهما واکرام صدیقهما.

رواه ابوداؤدوابن ماجة (مشکوة المصابیح ،باب البر والصلة)

ژباړه: حضرت ابواسيدالساعدی رضی الله عنه روايت کوي، چي موږله نبی عليه السلام سره يوځای ناست وو، چي دبنوسلمه له قبيلې سره تړاو لرونکی يوتن راغی اوويې ويل، چي اې دالله رسولهﷺ! ايا دموراوپلار حق اوله هغوی سره احسان دهغوی ترمړيني وروسته هم زماپه غاړه شته؟ چي دهغوی ترمړيني وروسته له هغوی سره هغه ښېګڼه وکړم؟

نبی عليه السلام ورته وويل، چي هو! دهغوی لپاره درحمت دعا کول، ښښنه ورته غوښتل، ترهغوی وروسته دهغوی وصيت اوکړې ژمني پوره کول، دموراوپلار له هغوخپلوانواودوستانوسره صله رحمي کول، چي د دوستي اوخپلوي رسۍ يوازي ددوی په وجه ورسره لرې اودهغوی ملګرو درناوی اواحترا م کول، هغه حقوق دي، چي ترمړيني وروسته يې درباندي لري.

نبی عليه السلام په يوه بل حديث کي دپلار له ملګرو سره دغوړه اړيکو ساتلو ته ډېر اهميت ورکړی اودا يې تر ټولو غوره کړنه بللې ده.

حديث کي راځي:

عَنِ ابْنِ عُمَرَ قَالَ سَمِعْتُ رَسُولَ اللَّهِ -صلى الله عليه وسلم- يَقُولُ « إِنَّ أَبَرَّ الْبِرِّ أَنْ يَصِلَ الرَّجُلُ أَهْلَ وُدِّ أَبِيهِ ». قَالَ وَفِى الْبَابِ عَنْ أَبِى أَسِيدٍ.

رواه ترمذي

ژباړه: له حضرت عبدالله بن عمر رضی الله عنه څخه روایت شوی، چي ماله نبی علیه السلام څخه واورېدل، چي نبی علیه السلام وویل: بې شکه ترټولوزیات دغوره سلوک ښتن هغه سړی دی، چي دخپل پلار له ملګرواودوستانوسره مینه اوغوره اړیکي نیسي.

په اسلام کي له مور اوپلار سره دغوره چال چلند ترغیب اودهغوی له نافرماني اوځوروني څخه په ځان ژغورني ټینګارشوی وو، خو دلته نور پرمختګ کیږي، یعنی یوازي له موراوپلار سره په غوره سلوک اوښېګڼي بسنه نه کیږي، بلکه بشپړاحسان دادی، چي دهغوی له دوستانو اوملګرو سره هم غوره چال چلند وکړل شي، دموراوپلار چي له کوموکسانوسره اړیکي اومینه وي، اولاد یې هم بایددموراوپلار دوستانوته پاملرنه وکړي اودهغوی درناوی وکړي، له هغوی سره مینه وکړي اواړیکي ورسره ونه شلوي، بلکه له هغوی سره په غوره چال چلند نوره هم مینه ورسره زیاته اوپه خپل ځای یې وساتي، دنبی علیه السلام په همدې لاربښوونوکه هرمسلمان عمل وکړي، نه یوازي چي دالله تعالی خوښي، نږدېکت اودجنت لوړي درجې به ترلاسه کړي، له بله پلوه به په دنیاکي هم سوکاله اوله میني اومحبته ډک ژوند ولري اوپه همدې ترتیب یوه خوشحاله اوسوکاله ټولنه منځته راځي، الله تعالی دي موږ ټولوته دنبی علیه السلام په لاربښوونودعمل کولوتوفیق راکړي،آمین.

که موږ وګورو په دغه حدیث شریف کي د« اَبَرِّالبرِّ» یعنی داسم تفضیل صیغه راغلي،یعنی ډېر ښه چلندکول اوډېره نیکي کول دموراوپلار له ملګروسره اړیکي پالل دي، دلته یې داسم تفضیل صیغه له دې امله راوړه، چي سړی دخپل پلار په نه موجودګي کي دهغه له ملګرواودوستانوسره غوره سلوک کوي اوله خپل پلارسره دمیني له امله له هغوی سره مینه اودهغوی احترام کوي، داربښتیاډېراحسان اوستره نیکي ده، څرګنده ده، چي که پلار حاضر وای، دپلاربه یې لازیات درناوی کاوواوله هغه سره به یې لازیاته نیکي کولای.

ددې تفصیل موخه داده، چي په یادشوي حدیث کي دپلار له ملګروسره دغوره سلوک یادونه دپلار په نه موجودګي کي شوې او دا ورڅخه څرګندیږي، ځکه دپلار په وجود کي دهغه له دوستانوسره دغوره چلند په کولوکي داشک پیدا کیږي، چي دزړه له کومي به دپلار له ملګرو سره احسان نه کوي، بلکه دپلار له غوسې اودهغه له خفګان څخه دځان ژغورني له امله به دهغه له دوستانوسره غوره چال چلند کوي اوکه داسي وي، داکامل اوبشپړاحسان نه شو اوځنګه چي په حدیث کي دبشپړاحسان یادونه شوې اوبشپړ احسان هغه مهال رامنځته کېدلی شي، چي له پلار سره دبشپړي وفادارۍ له امله اوله هغه څخه دنه وېرېدلواودهغه دنه ملامتیاپه صورت کي دزړه له کومي دپلار له دوستانوسره غوره چال چلند وکړل شي اویو بل روایت صراحتاً په همدې دلالت کوي، چي مشکوة شریف رانقل کړی او هغه حدیث دادی:

وعن ابن عمررضی الله عنهماقال: قال رسول اللهﷺ! ان من ابرالبر صلة الرجل اهل وُدّ ابيه بعدان يولّی.

(رواه مسلم) (مشكوة المصابيح ج ۲ص: ۴۴۱ باب البر والصلة)

يعنی بشپړه نيکي داده، چي سړی دخپل پلار له ملګرواودوستانوسره غوره اړيکي جوړي کړي، وروسته له دې چي پلار يې شاوګرځوي.

دشادګرځولومطلب دادی، چي پلاريې مړشي اوله دې فاني نړۍ څخه ولاړ شي، دامطلب يې هم کېدلی شي، چي پلار خوژوندی وي، ليکن په همدې مجلس اوځای کي موجود نه وي، ياهغه له اولاد څخه ناخوښه شي اومخ ورڅخه وګرځوي.